د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

**گڼه: 401**

(10 مرغومی – 16 مرغومی 1401 هـ ش)

# د اسلامي امارت او ازبکستان د اړیکو په اړه تحلیل



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انگلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د اسلامي امارت او ازبکستان د اړیکو په اړه تحلیل ........................................................ 3
- سریزه........................................................................................................... 3
- ۱. د طالبانو اسلامي تحریک او د اولې دوره اسلامي امارت ته د ازبکستان د لید ډول.................. 4
- ۲. د امریکا د اشغال او جمهوري نظام پر وړاندې د اسلامي امارت د مبارزې په اړه د ازبکستان سیاست ........................................................................................................................ 5
- ۳. په ۲۰۲۱م کال کې د اسلامي امارت د بیا استقرار څخه وروسته د ازبکستان او اسلامي امارت اړیکې ........................................................................................................................ 6
- ۴. د دواړو لوریو د اړیکو لید ........................................................................................ 7
- پایله: ........................................................................................................... 9
- وړاندیزونه: ........................................................................................................... 10
- سرچینې: ........................................................................................................... 10


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د اسلامي امارت او ازبکستان د اړیکو په اړه تحلیل

## سریزه

د ازبکستان هېواد په مرکزي آسیا کې د افغانستان له شمالي ګاونډیانو څخه دی، دا هېواد هغو شاخصونو ته په کتو؛ لکه: د جنګي تجهیزاتو له پلوه نظامي ځواک، اقتصادي پیاوړتیا، د نفوسو کمیت او اندازه (چې ۳۰ میلیون نفوس لري) او د کیفیت له پلوه (چې د دې هېواد خلک د سواد او تخصص په لوړه کچه کې دي) او جغرافیایي ممتاز موقعیت (په داسې توګه چې دا هېواد د منځنۍ آسیا په زړه کې موقعیت لري، د دې سیمې له هېوادونو او افغانستان سره ګډه پوله لري) چې دې هېواد ته یو ځانګړې جیوپولتیک قدرت او ځواک وربښي، چې په منځنۍ آسیا کې د یوه ځواکمن هېواد په توګه پېژندل کېږي، له بله پلوه د شوروي اتحاد په وخت کې ازبکستان د منځنۍ آسیا د نورو هېوادونو په پرتله غوره رول درلود، چې دې موضوع هم له دې سره مرسته کړې ده چې دغه هېواد له خپلواکۍ وروسته هم په دې سیمه کې د یوه سیمه ایز رهبر په توګه ځان مطرح کړي.

دا هېواد له افغانستان سره ۱۳۷ کیلومتره ګډ سرحد لري، چې د آمو سیند په واسطه په طبیعي توګه یو له بل څخه جدا کېږي. د دواړو هېوادونو تر منځ د اړیکې مستقیم او رسمي مسیر د «دوستي د پل» په واسطه رامنځته شوی دی، په ۱۹۸۲م کال کې شوروي د سرک او ریل د لارو په واسطه په افغانستان کې حیرتان او په ازبکستان کې ترمذ له یو بل سره وتړل. د دواړو هېوادونو ازبکستان او افغانستان تر منځ دوستي د دوه سیاسي هېوادونو په توګه د شوروي له دړې وړې کېدو او په ۱۹۹۱م کال کې د ازبکستان له خپلواکۍ څخه وروسته پیل شوه، په عمومي توګه کولای شو له پیل څخه تر اوسه پورې د دواړو هېوادونو تر منځ اړیکې په دریو دورو وویشو. چې لومړۍ دوره په ۱۹۹۱م کال کې د ازبکستان له خپلواکۍ څخه تر ۲۰۰۱م پورې ده. په افغانستان کې د داخلي جګړې او د ازبکستان د زړ او تصادفي خپلواکۍ له امله د دواړو هېوادونو اړیکې ډېرې د پام وړ ونه ګرځېدې. دوهمه دوره له ۲۰۰۱م څخه وروسته او په افغانستان کې د امریکا تر ملاتړ لاندې د جمهوري نظام په رامنځته کېدو پیل شوه، ازبکستان د نورو هېوادونو په څېر له افغانستان سره د اړیکو



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په رغونه پيل وکړ او خپل سفارت يې په افغانستان کې فعال کړ او د دوه دولتونو ترمنځ د اړيکو په درلودو سره يې کوښښ کاوه چې اړيکو ته پراختيا ورکړي. او درېيمه دوره د اسلامي امارت له رامنځته کېدو او د جمهوري نظام د له منځته تلو وروسته پيل شوه، نو پوښتنه دا ده چې د طالبانو له تحريک سره د دې هېواد اړيکه پخوا څرنګه وه او د اسلامي امارت د بيا رامنځته کېدو څخه وروسته ازبکستان له دې حکومت سره څرنګه اړيکې او روابط غواړي؟ د دې پوښتنې د هراړخيز ځواب د پيدا کېدو په موخه دغه مسئله په څو محورونو تر څېړنې لاندې نيول کېږي:

## ۱. د طالبانو اسلامي تحريک او د اولې دوره اسلامي امارت ته د ازبکستان د ليد دول

په ۱۹۹٦م کال د اسلامي امارت له تأسيس څخه مخکې چې په ظاهر کې ازبکستان د برهان الدين رباني په رهبرۍ د افغانستان له اسلامي دولت سره رسمي اړيکې درلودې خو په عملي توګه يې د جنبش له تنظيم څخه د ازبک قومندان عبدالرشيد دوستم چې په مشرۍ د مرکزي حکومت په وړاندې جنګېده ملاتړ کاوه. د طالبانو د تحريک له ظهور څخه وروسته او په تېزۍ يې د کابل په شمول د افغانستان ۹۰ په سلو کې خاوره نيولو او د افغانستان د اسلامي امارت له تأسيس څخه وروسته د افغانستان او ازبکستان اړيکو بله بڼه غوره کړه، مخکې له دې چې ازبکستان د خپلو سرحدونو د امنيت له ستونزې څخه په امن ؤ او په دې هڅه کې ؤ چې د قدرت په جوړښت کې ازبکانو ته زياته برخه ورکړي. د افغانستان په شمالي برخو د مزار شريف د ښار او حيرتان بندر په شمول د اسلامي امارت له تسلط څخه وروسته، ازبکستان په سخته توګه په خپلو سرحدونو کې د ناامنۍ احساس پيدا کړ، له همدې امله د دوستۍ د پل په بندولو سره يې د خپلو سرحدونو حفاظتي تدابير سخت کړل[1]. هغه مهم لامل چې ازبکستان له اسلامي امارت سره د ګاونډيتوب څخه د وېرې احساس کاوه دا ؤ چې هغوی وېره لرله چې اسلامي امارت به د ازبکستان د اسلامي حرکت (IMU=Islamic Movement of Uzbekistan) په خېر ډلو سره چې د ازبکستان حکومت په ضد فعال دی، اړيکه ولري.

له دې وېرې او ډار سره سره او همدارنګه چې اسلامي امارت د عبدالرشيد دوستم په رهبرۍ ازبک حزب له صحنې څخه ايستلی ؤ، ازبکستان په داسې عملي سياست

[1] ويل کيږي هغه حفاظتي تدابير چې د ازبکستان او افغانستان د سرحدونو تر منځ ترسره شول د شمالي کوريا او جنوبي کوريا د سرحدي حفاظتي تدابيرو څخه په دوهمه رتبه کې راځي.


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

لاس پوري کړ چې له اسلامي امارت سره خصمانه حالت غوره نه کړي، همدارنګه يې هڅه وکړه چې دا هغه وخت د اسلامي امارت او د مقاومت د جبهې ترمنځ په جګړه کې چې د دوستم په رهبرۍ ازبک حزب هم پکې شامل ؤ ځان بې طرفه وښيي، او په افغانستان کې د يوه پراخ بنسټه حکومت د رامنځته کېدو غوښتونکی شو، سربېره پر دې د ازبکستان حکومت بې کاره پاتې نشو، بلکې د افغانستان د بحران د حل لپاره يې د ٦+٢ د تماس هېوادونو (د افغانستان شپږ ګاونډيان او امريکا او روسيه) ابتکار په لاس کې واخيست، په پايله کې يې په ١٩٩٩م کال د ١٣ مادو اعلاميه په تاشکند کې صادره شوه چې په دې يې تأکيد کاوه چې د افغانستان د بحران د حل لاره نظامي نه ده او بايد دا بحران د ملل متحد په رهبرۍ د مذاکرې له لارې حل شي، که څه هم دې مذاکرو د افغانستان پر وضعيت کوم ښکاره اغېز نه درلود، خو کوم څه چې د ازبکستان لپاره مهم ؤ دا ؤ چې وښيي د افغانستان په اړه ښه نيت لري او د خپل ګاونډي هېواد د قضيې سوله ايز حل غواړي. پر دې سربېره چې ازبکستان د افغانستان له لوري د ستونزې د کموالي په موخه او د دې لپاره چې د اسلامي امارت د ازبکستان د حکومت ضد ډلو ته اجازه ورنکړي چې د افغانستان له لوري په ازبکستان کې تخريبي عمليات ترسره کړي، په ٢٠٠٠م کال کې د ازبکستان جمهور رئيس په ښکاره اعلان وکړ چې اسلامي امارت د هغوی لپاره کوم تهديد نه دی، يوازې دغه هيله لري چې اسلامي امارت او د شمالي ائتلاف ځواکونه په خپل منځ کې يو مشترک او ګډ حکومت او ائتلاف جوړ کړي، تر دې پورې چې په اسلام آباد کې د دې هېواد سفير د اسلامي امارت له استازو سره ليدنه وکړه او دواړو لوريو ژمنه وکړه چې د يو بل په داخلي امورو کې به مداخله نه کوي.

## ۲. د امريکا د اشغال او جمهوري نظام پر وړاندې د اسلامي امارت د مبارزې په اړه د ازبکستان سياست

د سپټمبر د يوولسمي له پېښو او پر افغانستان د امريکا له يرغل وروسته چې په پايله کې يې اسلامي امارت له منځه لاړ او د لويديځو هېوادونو او په سر کې د امريکا په مرسته جمهوري نظام رامنځته شو، ازبکستان هم د نورو هېوادونو په څېر په کابل کې خپل سفارت او په مزارشريف کې خپله کنسلګري پرانيستله. په دې دوره کې ازبکستان خپلې اړيکې د کابل له اداري سره پراخه کړې او همدارنګه يې په افغانستان کې د امريکا لپاره د نظامي عملياتو او لوژستکي ملاتړ په موخه د خان آباد

اډه د امریکا په اختیار کې ورکړه. له دې اډې څخه د امریکا ګټه اخیستنه د امریکا له لوري په ۲۰۰۵م کال د اندیجان د پېښو په اړه د ازبکستان د حکومت د تعامل په وړاندې د امریکا له اعتراض څخه وروسته وتړل شوه، سره له دې ازبکستان د کابل له اداري سره ښې اړیکې درلودې، تر دې چې په ۲۰۰۹ م کال له امریکا سره د ازبکستان اړیکې د صمیمیت لوري ته لاړې او امریکا ته یې اجازه ورکړه چې له نومورې اډې څخه یوازې غیرنظامي اقلام انتقال کړي، خو دې هېواد هڅکله هم د طالبانو تحریک یو تروریستي ډله نه ده بللې او د امریکا او کابل حکومت پر ضد یې په شلو کلونو کې د طالبانو د تحریک د مبارزې په اړه د دښمنۍ دریځ نه دی نیولی.

کولای شو ووایو چې د ازبکستان حکومت په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان پر وړاندې خپل د بې طرفۍ او سوله ایز سیاست ساتلی دی. لکه څرنګه چې د دې هېواد جمهور رئیس په ۲۰۰۸م د ناټو د بخارست په ناسته کې د ۱۹۹۰م لسیزه په اواخرو کې د ٦+۳ هېوادونو (شپږ د افغانستان ګاونډي هېوادنو او روسیې، امریکا او ناټو) د تماس د ډلې د ایجاد طرحه وړاندې کړه، خو د هېچا د پاملرنې وړ ونه ګرځېده، دا هېواد د خپل بې پرې سیاست د پیاوړتیا او د فعالې ډیپلوماسۍ د لرلو او د خپل بحراني ګاونډي هېواد په اړه د منځګړیتوب د هڅې په موخه په دې وروستیو څو کلونو کې زیات فعال شوی دی، چې مهم موارد یې په دې هېواد کې د بین الافغاني مذاکراتو په موخه د طالبانو د تحریک د استازو کوربه توب ؤ، همدارنګه اسلامي امارت د اشغال پر وړاندې په شل کاله مبارزه کې د خپلو ګاونډیانو او په ځانګړې توګه د ازبکستان پر وړاندې خصمانه دریځ نه دی نیولی او هېڅ ډلې او په ځانګړې توګه د ازبکستان اسلامي حرکت ته یې اجازه نه ده ورکړې چې د دوی د تسلط او واک له سیمو څخه د ازبکستان پر وړاندې تخریبي عملیات تر سره کړي.

## ۳. په ۲۰۲۱م کال کې د اسلامي امارت د بیا استقرار څخه وروسته د ازبکستان او اسلامي امارت اړیکې

له افغانستان څخه د امریکا له وتلو او جمهوري نظام د له منځه تلو وروسته، د بیا لپاره اسلامي امارت په افغانستان کې حاکمیت ترلاسه کړ، د اسلامي امارت مقاماتو او ویاندویانو په کابل کې د حکومت د ترلاسه کولو وروسته بې له کوم ځنډ څخه په رسمي او روښانه توګه د ګاونډیو هېوادونو پر وړاندې پر خپل دې دریځ تأکید وکړ چې اسلامي امارت له ټولو هېوادونو او په ځانګړې توګه له خپلو ګاونډیانو سره د ښو اړیکو غوښتونکی دی او هېڅ ډلې ته به اجازه ورنکړي چې د افغانستان له خاورې څخه د بل هېواد پر وړاندې ګټه

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

پورته کړي، همدارنګه پر دې اصل يې ټينګار وکړ چې اسلامي امارت له ټولو هېوادونو سره ښې اړيکې غواړي او د دوی سياست پر بې طرفی او اقتصادي سالمو اړيکو ولاړ دی، پر دې سربېره دا چې ازبکستان له اسلامي امارت سره د اسلامي امارت له بيا راتګ څخه مخکې ښې اړيکې درلودې نو د اسلامي امارت له بيا راتګ څخه يې هېڅ تشويش نه درلود، خو د اسلامي امارت له لوري د بې طرفی او د اقتصادي اړيکو د پياوړتيا اعلان د ازبکستان هېواد ته نور هم اطمينان ورپه برخه کړ چې د اسلامي امارت لخوا به ورته هېڅ کومه ستونزه نه پېښېږي.

په سياسي برخه کې دا چې ازبکستان د نورو هېوادونو په څېر د افغانستان د اسلامي امارت په رسميت پېژندل ځنډولي دي، خو دا هېواد اسلامي امارت د افغانستان د حکومت په توګه پېژني او کوښښ کوي تر څو د افغانستان په اړه د زغم او نه مداخلې او له هېڅ ډلې څخه د نه ملاتړ سياست په نيولو سره خپلې سياسي اړيکې له اسلامي امارت سره د قبول وړ کچې ته ورسوي. د دوه اړخيزو اړيکو د پياوړتيا په موخه د دواړو هېوادونو مقاماتو څو ځله د يوبل هېواد ته سفرونه کړي دي، چې يو له دې مهمو سفرونو څخه کولای شو کابل ته د ازبکستان د بهرنيو چارو د وزير سفر او ازبکستان ته د اسلامي امارت د سرپرست وزير سفر ته اشاره وکړو. په اقتصادي برخه کې د دواړو هېوادونو اړيکو مطلوب حالت غوره کړی دی، په دې يوه کال او څو مياشتو کې د دواړو هېوادونو تر منځ اقتصادي راکړه ورکړه د دې ښکارونه کوي چې دواړه لوري د اقتصادي اړيکو پراختيا ته زياته پاملرنه لري، تر ټولو نوی مورد چې د دواړو هېوادونو د اقتصادي اړيکو ښکارونه کوي د دواړو لوريو تر منځ د ګډ تجارتي بازار د رامنځته کولو مورد دی.

## ۴. د دواړو لوريو د اړيکو ليد

څو فکتورونو ته په کتو سره کولای شو چې د دواړو هېوادونو تر منځ اړيکې ښې او حسنه وبولو

لومړی: د دواړو هېوادونو تر منځ د امنيتي فضا نه موجوديت: د منطقوي مطالعاتو او په ځانګړې توګه د منطقوي امنيتي مجموعو پر اساس، تر ټول مهم عامل او فکتور چې د هېوادونو اړيکې منفي او يا مثبت لوري ته بيايي، د دوه هېوادونو تر منځ د امنيتي شوو موضوعاتو موجوديت[2] او عدم موجوديت دی، لکه څرنګه چې مو د دې مقالې په مخکينيو بحثونو کې روښانه کړه، چې د ازبکستان او افغانستان تر منځ هېڅ امنيتي موضوع شتون نلري، د امنيتي موضوعاتو نه موجوديت د دې

[2] د منطقوي امنيتي مجموعي د نظرېې له مخې، د دوه هېوادونو تر منځ امنيتي شوي موضوعات هغو موضوعاتو ته ويل کېږي چې د هغو حل له سياسي او ديپلوماتيکو لارو ممکن نه وي او دواړه لوري په مطلقه توګه د خپل ځان په ګټه له نورو وسايلو لکه نظامي ځواک څخه که هغه يو اړخيز او شخصي وي او يا له نورو هېوادونو سره د ائتلاف په بڼه وي، ګټه اخلي. د عامو امنيتي شوو موضوعاتو له ډلې کولای شو، تاريخي دښمنيو، سرحدي اختلافاتو او دعواګانو، په يو هېواد کې د اړوند جمعيتونو او خلکو څخه ملاتړ او... اشاره وکړو

لامل کېږي چې دواړه هېوادونه په آرام او بې له امنیتي فضا او معما[3] څخه خپلمنځي اړیکي او په ځانګړې توګه په اقتصادي برخه کې خپلې اړیکې په ښه توګه پراخه کړي، داسې هېوادونه هېڅکله هم یو د بل پر ضد په سیاسي ائتلافونو او نظامي اتحادونو کې غړيتوب نه اخلي، بلکې تل هڅه کوي تر څو په دوه اړخیزه توګه او یا په سیاسي او اقتصادي سازمانونو کې د ګډون له لارې له یو بل څخه ګټې ترلاسه کړي، دا روښانه ده چې د نه امنیتي شوې فضا موجودیت د ازبکستان او افغانستان لپاره ښه فرصتونه رامنځته کولای شي .

دوهم: په افغانستان کې د امنیت او سیاسي ثبات او ازبکستان د امنیت تر منځ اړیکه: دوهم فکتور چې د دې لامل شوی دی چې ازبکستان د تل لپاره په افغانستان کې د یوه باثباته حکومت لپاره هڅه وکړي او د هر ډول بې ثباته کوونکي عمل څخه په افغانستان کې ځان وساتي، د دوی د خپل امنیت او د افغانستان د ثبات او امنیت تر منځه اړیکه ده، دا منل شوې خبره ده چې ازبکستان د تل لپاره د خپل ځان پر ضد ډلو؛ لکه: د ازبکستان اسلامي حرکت او په اوس وخت کې داعش[4] څخه د خطر احساس کوي، له دې امله دغه هېواد کوښښ کوي تر څو د خپل داخلي امنیت لپاره په افغانستان له امنیت او ثبات څخه چې په اوس وخت کې یې عامل اسلامي امارت دی ملاتړ وکړي .

دریم: د دواړه هېوادونو یو بل ته اقتصادي اړتیاوې او ضرورتونه: دواړه هېوادونه په اقتصادي او تراتزیتي برخه کې یو بل ته اړتیاوې لري، په اقتصادي برخه کې ازبکستان د افغانستان لپاره د یو اقتصادي او تولیدي ظرفیت لرونکي ګاونډي په توګه زیات ارزښت لري چې کولای شي د افغانستان د اقتصاد په وده کې مرسته وکړي، د ازبکستان زیات معدني زیرمې او منابع په ځانګړې توګه نفت او ګاز او په اوسني وخت کې د برق د تولید په برخه کې د افغانستان د اړتیاوو په پوره کولو کې مهم رول لري، دغه هېواد د صنعت او زراعت په برخه کې چې د مختلفو ماشینونو په تولید کې لوی لاس لري، کولای شي چې د زراعتي تولیداتو په برخه کې د افغانستان لپاره یو مهم او مناسب ملګري او همکار وګرځي. لکه څرنګه چې د ریل لومړی پټلی (له حیریان څخه تر مزارشریف پوري) د ازبکستان هېواد په مرسته جوړه شوې ده، د دې په مقابل کې افغانستان د ازبکستان د صادارتو او په صنعتي او زراعتي برخه کې د پانګونې لپاره مناسب هېواد دی، ازبکستان کولای شي چې د زیرمو په استخراج او پروسس کې د لارو او ریل پټلۍ په برخه کې پانګونه وکړي.

[3] امنیتي معما هغه وضعیت ته ویل کېږي چې کله یو هېواد له بل هېواد څخه د خطر احساس وکړي، خپله زیاته اقتصادي پاملرنه او ځواک، نظامي او تهاجمي برخې ته ځانګړې کړي او په همدا ډول بل هیواد هم هڅه کوي تر څو همدا کار ترسره کړي. دغه حالت تسلیحاتي مسابقې ته درومي چې په پایله کې یې دواړه هېوادونه له یو بل څخه په تل پاتې وېره کې ژوند کوي.
[4] ویل کېږي چې هغه راکټي برید چې د افغانستان له خاورې څخه د ازبکستان پر خاوره ترسره شوی ؤ، د داعش د ډلې کار ؤ.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ټرانزيټـــي اړتيـــاوو او ضـــرورتونو پـــه برخـــه کـــې چـــې دواړه هېوادونـــه يـــې يـــو بـــل لـــري ويـــلاې شـــو چـــې ازبکســـتان د يـــوه توليـــدي هېـــواد پـــه توګـــه کـــولای شـــي د افغانســـتان لـــه لارې د جنـــوبي آســـيا لـــه ګـــڼ ميشـــتو ســـيمو ســـره وتـــړل شـــي، همدارنګـــه دغـــه هېـــواد د افغانســـتان لـــه لارې لـــه پاکســـتان، ايـــران او حتـــی د خلـــيج فـــارس لـــه بنـــدرونو او د عمـــان لـــه ســـيند ســـره وصـــل شـــي، افغانســـتان هـــم کـــولای شـــي د ازبکســـتان لـــه لارې لـــه قزاقســـتان، قرغزســـتان، چـــين او روســـيې ســـره ځـــان وتـــړي، لکـــه څرنګـــه چـــې د ريـــل پټلـــۍ چـــې افغانســـتان لـــه چـــين ســـره وصـــلوي د ازبکســـتان لـــه لارې تېرېـــږي، لـــه دې املـــه دواړه هېوادونـــه بايـــد زياتـــه هڅـــه وکـــړي چـــې هـــر څـــومره ژر کېـــدای شـــي د تـــرانس – افغـــان ريـــل پټلـــۍ او د خـــواف – هـــرات او مزارشـــريف پـــه ريـــل پټلـــۍ چـــې د ازبکســـتان د ترمـــذ بنـــدر پـــه مســـتقيمه توګـــه لـــه ايـــران ســـره تـــړي خپـــل کوښښـــونه متمرکـــز کـــړي او د ټرانزيـــټ او تجارت په برخه کې يو لوی انقلاب رامنځته کړي.

## پایله:

ازبکســـتان پـــه مرکـــزي آســـيا کـــې د يـــو ځـــواکمن هېـــواد او د افغانســـتان د شـــمالي ګاونـــډي پـــه توګـــه پـــه ۱۹۹۱م کـــال کـــې د خپلـــې خپلـــواکۍ اخيســـتو څخـــه راهيســـې لـــه افغانســـتان ســـره سياســـي اړيکـــې لـــري، يـــوازې لـــه يـــوې دورې (پـــه ۱۹۹۰م لســـيزه کـــې د افغانســـتان د جهـــادي تنظيمونـــو د خپـــل منځـــي جګـــړو) پرتـــه د تـــاريخ پـــه ټولـــو مراحلـــو کـــې يـــې هڅـــه کـــړې ده چـــې لـــه افغانســـتان ســـره دوه اړخيـــزه ښـــې اړيکـــې ولـــري، د ازبکســـتان د سياســـت بېلګـــې چـــې د افغانســـتان پـــه وړانـــدې يـــې غـــوره کـــړې دي، لـــه ښـــه کړنـــو، د دولـــت – دولـــت پـــه ســـطحه اړيکـــې او فعالـــه او د منځګړتيـــوب لـــه ډيپلوماســـۍ څخـــه عبـــارت دي، لکـــه څرنګـــه چـــې دغـــه هېـــواد د ۱۹۹۰م لســـيزې پـــه اواخـــرو کـــې د تمـــاس ۲+٦ ډلـــې او د ۲۰۰۸م کـــال پـــه اواخـــرو کـــې د تمـــاس ۳+٦ ډلـــې د ابتکـــار وړانـــديز وکـــړ، همدارنګـــه دغـــه هېـــواد پـــه څـــو وروســـتيو کلونـــو کـــې د بـــين الافغـــاني مـــذاکراتو د کوربـــه تـــوب لپـــاره ليوالتيـــا ښـــودلې ده چـــې د دې هېـــواد د خيرغوښـــتنې پـــه نيـــت دلالـــت کـــوي. د اړيکـــو پـــه دې فضـــا کـــې چـــې د اســـلامي امـــارت د تأســـيس لـــه پيـــل څخـــه د دوی اړيکـــې لـــه ازبکســـتان ســـره بـــې لـــه مخاصـــمې او کـــړکيچ څخـــه وې، تـــر څنـــګ يـــې د اســـلامي امـــارت د بـــې طرفـــي او اقتصـــادي اړيکـــو د پياوړتيـــا د سياســـت اعـــلان د ازبکســـتان لـــه هېـــواد ســـره دا ليوالتيـــا پيـــدا کـــړې ده چـــې افغانســـتان ســـره اقتصـــادي اړيکـــو تـــه پراختيـــا ورکـــړي، لـــه دې املـــه پـــه دې مقالـــه کـــې دا خبـــره څرګنـــده شـــوه چـــې د اســـلامي امـــارت لـــه بيـــا راتلـــو ســـره د دواړو هېوادونـــو اړيکـــې لـــه عـــادي حالـــت څخـــه د قبـــول وړ حالـــت تـــه پورتـــه شـــوي دي، چـــې د اړيکـــو دغـــه

لوړتیا د راتلونکي لپاره د دواړو هېوادونو د اړیکو ښه فضا ښکاره کوي. د شته ښو اړیکو پر بنسټ او په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان بیړنیو اقتصادي اړتیاوو ته په کتو، د اقتصادي تبادلې د کچې د لوړولو او په افغانستان کې د ازبک پانګوالو له خوا د زیربنایي پانګونې د پراخوالو په موخه د دغه اړیکو هراړخیزه پراختیا او له بلې خوا ازبکستان ته د افغان سوداګرو د ټرانزیټي آسانتیاوو برابرول هغه څه دي چې د دواړو هېوادونو چارواکې باید ورته زیاته پاملرنه وکړي.

## وړاندیزونه:

د دې مقالې مباحثو ته په کتو سره لاندې وړاندیزونه کېږي:

1) دواړه هېوادونه افغانستان او ازبکستان باید خپلو سیاسي اړیکو ته لا پراختیا او پیاوړتیا وروبښي؛

2) دواړه دولتونه باید د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرو د تګ راتګ لپاره ځانګړې آسانتیاوې برابرې کړي، تر څو د سوداګرۍ بهیر ګړندی شي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي تبادلې کچه لوړه شي؛

3) دواړه هېوادونه د سیمه ایز اتصال لپاره د تیزوالي لپاره چې د سیمې سخته اړتیا ده، خپل تمرکز د ترانس – افغان پر پروژه او د خواف – هرات او مزارشریف پر ریل پټلي زیات کړي؛

دواړه هېوادونه دې لوی اقتصادي دوه اړخیز قراردادونه ژر تر ژره لاسلیک کړي چې د دواړو هېوادونو لپاره د پانګونې زمینه برابروي.

## سرچینې:


1) http://peacemaker.un.org/sites/peacemaker.un.org/files/AF_990719_TashkentDeclaration%28en%29.pdf

2) . آلیکر، اولگا. گسل‌های منازعه در آسیای مرکزی و قفقاز جنوبی، ژباړه: د انتشارات موسسه فرهنگی مطالعات و تحقیقات بین‌المللی ابرار معاصر یوه ډله مترجمین: تهران، حوت ۱۳۸۲، ص ۳۰۸.

3) . یوسف محمودي. «خروج نظامیان امریکایی از ازبکستان»، د ایراس ماهنامه، ګڼه ۵، ۱۳۸۴.




Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

4) . Reuters Staff. "Afghan Taliban delegation visits Uzbekistan to talk security, power lines", Reuters Website. August 12, 2018. Available at: https://www.reuters.com/article/us-afghanistan-taliban-idUSKBN1KX056

5) Arezo News. "Taliban delegation meets Uzbek officials in Tashkent", 8 Aug, 2019. Available at: https://arezo.news/en/afghanistan/taliban-delegation-meets-uzbek-officials-in-tashkent/

6) . Eurasianet. "Uzbekistan foreign minister jets into Afghanistan for talks", Oct 7, 2021. Available at: https://eurasianet.org/uzbekistan-foreign-minister-jets-into-afghanistan-for-talks

7) . Pajhwok. "Muttaqi off to Uzbekistan for conference on Afghanistan", 24 Jul, 2022. Available at: https://pajhwok.com/2022/07/24/muttaqi-off-to-uzbekistan-for-conference-on-afghanistan/

8) . Caravanserai. "Afghan port sees hike in trade with Uzbekistan", 15, 6, 2022. Available at: https://central.asia-news.com/en_GB/articles/cnmi_ca/features/2022/06/15/feature-02

9) . Ariana News. "Uzbekistan-Afghanistan joint trade zone to be established" Aug 26, 2022. Available at: https://www.ariananews.af/uzbekistan-afghanistan-joint-trade-zone-to-be-established/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پالیسیو د ارزونې او بداينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com  info@csrskabul.com

وب سايټ: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: ۰۰۷+۹۳۷۹۸۶۴۹